بسم الله الرحمن الرحیم

## د نوید بټ په اړه د عمر عبدالعزیز شاهدي

## نوید بټ وپېژنئ؛ نوید بټ آزاد کړئ

په هر وخت کې الله سبحانه وتعالی خپل مقدس او یوازنی حق دین (اسلام) د پرهېزګارو خلکو پر مټ کامیابوي؛ د هغو لوړو مرتبو او قوي بچیانو او لورانو په لاس چې دوی خپل ټول ژوند د دین په خدمت کې تېروي. دا هر څه د دې لپاره چې بشر د کفر له تورو تیارو څخه د الله سبحانه وتعالی لارښوونې یعنې د اسلام مقدس دین رڼا ته رابولي. دغه خلک خپلې ټولې وړتیاوې، مال او وخت د دغه مبارک دین د حق ادا کولو لپاره مصرفوي. په دې کې هم شک نشته چې نوید بټ هم د امت د مخلصو بچیانو په منځ کې ځان ثابت کړی.

ما د لومړي ځل لپاره نوید بټ په لاهور کې په یو هوټل کې ولید، نوموړي هلته ځینې خلک رابللي وو، څو دوی ته د اسلام اقتصادي سیستم په اړه معلومات ورکړي. زما فکر به ځینې وختونه بدل شو او ما به غوښتل چې په اسلام باندې پوه شم، په ځانګړي ډول پر دې باندې چې اسلامي نظام (خلافت) څنګه له قران او سنتو څخه احکام را اخلي او عملي کوي یې. ځکه نو ما هم سمدستي دغه بلنه او دعوت قبول کړ. مخکې له دې څخه ما حزب التحریر او نوید بټ ورور نه پېژندل. کله چې ما په دغه لویه غونډه کې چې د اسلام د اقتصادي نظام په اړه وه، ګډون وکړ، نو د اسلام په هکله یې زما ځینې بد ګمانونه پاک کړل او زما ذهن په دې باندې هم څه ناڅه خلاص شو چې اسلامي نظام څنګه احکام پلي کوي. د نوموړي خبرو زما فکر پراخ کړ او د لومړي ځل لپاره ما احساس وکړ چې اسلام په څومره اسانۍ کولای شي د امت دغه روان کړکېچ له منځه یوسي او یو ځل بیا د پخوا په څېر د نړۍ د لارښود امت په توګه ځان راپورته کړي.

همدارنګه له دې مخکې هم ما له ډېرو خلکو سره لیدلي وو، څو پر اسلام پوه شم او پر دې پوه شم چې اوس څنګه امکان لري چې اسلامي احکام تطبیق شي، خو په کومه طریقه چې نوید بټ موږ

ته اسلام واضح کړ، هغه ډېره ساده او عملي طريقه وه او دا ډول معلومات ما تر دې وړاندې نه وو اورېدلي. په دغه ملاقات کې ځينې نور کسان هم موجود وو او ځينې پوښتنې يې هم وکړې. نويد په پوره زغم او ښه ډول دوی ته د اسلام په هکله ځوابونه ورکړل. ما هلته داسې کوم نفر ونه ليد چې د نويد ځوابونو قناعت نه وي ورکړی.

له دغې ناستې څخه وروسته ما له ځان سره پرېکړه وکړه چې زه به نور هم د اسلامي سيستم په هکله په غونډو کې ګډون کوم. هر وخت به چې نويد د اسلام د ټولنيز نظام، بهرني سياست، قضاوت او حاکم سيستم په اړه غونډې جوړولې، نو ما ته به يې هم بلنه راکوله. هر څومره به چې ما له دوی سره ليدل، همدومره به د اسلام په هکله زما پوهه زياتېدله. نوموړي د بحث کولو طريقې او د بحث ژوروالي او هراړخيزتوب موږ ته قناعت راکاوه. د هغه ځوابونو به سړي ته فکري قناعت ورکاوه، ځکه چې ده به واقعيت تحليلاوه او له شرعي اساساتو سره به يې ارتباط ورکاوه؛ څو موږ ته واقعيت معلوم کړي. په اوسنيو چارو کې د نوموړي نظر او د کورني او بهرني سياست په هکله د ده پوهې به نور هم بحث خوندور کاوه. نويدبه په هېڅکله هم د فرضيو يا د بل چا په خيالونو باندې بحث نه کاوه. د دې پرځای نوموړي د امت ظرفيتونه، توانايي او سرچينې روښانولې. بيا به يې عملي او له اسلام سره مرتبط ځوابونه ورکول. ځکه نو ټول هغه کسان د تجارانو، حقوق پوهانو، عالمانو، ژورنالېستانو سياست مدارانو او داسې نورو چې له نويد سره يې اړيکې درلودې، هغه ته يې ډېر درناوی درلود. اوس چې هر وخت کې د نوموړي د اسلام بيانولو په هکله فکر کوم، نو فکر ته مې د النحل د سوره يو ايت راځي چې په هغه کې الله سبحانه وتعالی داسې فرمايي.

**[اُدۡعُ اِلٰى سَبِيۡلِ رَبِّكَ بِالۡحِكۡمَةِ وَالۡمَوۡعِظَةِ الۡحَسَنَةِ وَجَادِلۡهُمۡ بِالَّتِىۡ هِىَ اَحۡسَنُ]**

**ژباړه:** *اې پيغمبره ﷺ! خلک په ثابتو او ريښتيا خبرو د الله سبحانه وتعالی لاري ته راوبوله او له هغوی سره په ښه ډول او ښه طريقه خبرې وکړه. [انحل: ۱۲۵]*

ما به چې هر وخت او په هر ځای کې نوید ولید، نو له هغه سره به مې ډېر وخت نه ضایع کاوه او تل به مې له نوموړي څخه زیات څه زده کول. هغه به تشریح کول چې اسلام یوازې د عبادت، عقیدې او مذهب دین نه دی. نوموړي به خلکو ته واضح کوله چې اسلام یو روحي، سیاسي او عقیدوي دین دی. نوموړي به په جزیاتو سره تشریح کول چې سیاست په اسلام کې څومره ارزښت لري، څو د خلکو ګټې د اسلام مبارک دین له مخې خوندي کړي، څو خلک وکولایشي چې د الله سبحانه وتعالی په عبادت کې ژوند وکړي. د نوید مسلک انجینري وه او کله مې چې هغه وپېژند، حیران وم چې نوموړي څه ډول خپل مسلک بدل کړی، ځکه هغه کولای شوای چې خپل ډېر وخت او توانایي د الله سبحانه وتعالی د دین حاکمولو په لاره کې ولګوي.

زما په زړه کې نوموړي ته احترام او درناوی څو برابره زیاتېده، دی پوهېده، هغه لاره چې دوی وربانديې روان دي، له ستونزو، امتحانونو او قربانیو ورکولو ډکه ده. نوید به د کلکې عقیدې درلودونکي په شان ورسره مبارزه کوله او ځان به یې الله سبحانه وتعالی ته نېږدې کاوه. دی د حزب التحریر وياند و او تل به د هغو استخباراتي کړيو تر تعقیب لاندې و چې د خاينو او استعمارګرانو د امر تابع وو. نوید بټ هېڅکله له خپلو هڅو څخه ستړی نشو او تل به یې کوښښ کاوه چې د خپل رب د امر مطابق چارواکي له منکراتو څخه رامنع او له حق سره یو ځای کړي.

زما په یاد دي، د ۲۰۱۲ میلادي کال د مې پر ۱۲مه مې یو بد او خواشینوونکی خبر واورېد، چې نویدبټ له خپل کور څخه د باندې د خپلو زامنو پر وړاندې وتښتول شو. د ده یوازنی جرم دا و چې هغه غوښتل د قران او سنتو پر اساس اسلامي نظام (خلافت) بیا تاسیس کړي او له اوسنیو ګوډاګیو چارواکو او استعماري سیستم سره حساب او کتاب وکړي. زه تل د هغو کسانو په هکله فکر کوم چې هغوی د نوموړي د نیولو امر ورکړی یا یې نوموړی نیولی دی، چې دوی به د حساب او کتاب په ورځ له الله سبحانه وتعالی سره په ورځ څنګه مخ کېږي؟ څنګه چې دغو تښتوونکو نویدبټ له اتو کلونو څخه وروسته هم خوشی نه کړ او له خپل باصبره او مهربانه فامیل او کورنۍ څخه یې جدا ساتلی دی. ایا دوی د الله سبحانه وتعالی دغه ایت نه تلاوت کوي؟ یا دا چې دغه ایت تلاوت کوي، خو په مانا یې هغسې چې اړتیا ده، نه پوهېږي.

**[إِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوْا الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ]**

ژباړه: *له شک پرته هغه کسان چې مومنان او مومنانې د الله سبحانه وتعالی له دین څخه د بېرته گرځولو لپاره شکنجه کوي او بیا له خپل دغه کار څخه پښېماني او توبه ونه کړي؛ نو الله سبحانه وتعالی به یې د دوزخ له سخت او سوځووونکي عذاب سره مخ کړي. [البروج: ۱۰]*

امکان د ولري چې دغه انسان تښتوونکي به د الله سبحانه وتعالی له وعدې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زیري څخه نه وي خبر چې یو ځل بیا به د اسلام حاکمیت (خلافت) رامنځته کېږي. دا د دوی بدبختي ده چې دوی د کفارو د غلامانو په شان د اسلامي نظام (خلافت) د بیا تاسیس مخنیوی کوي. دغه غلامان به څنگه وکولای شي چې د اسلامي نظام د بیا راتگ مخنیوی وکړي؟ پداسې حال کې چې د دغه نظام د بیا راتگ وعده الله سبحانه وتعالی (د هرڅه خالق او د ټول عالم واکدار دی) ورکړې ده. له شک پرته الله سبحانه وتعالی به خپله وعده پوره کوي. نوید د هغو خلکو له ډلې څخه دی چې هغه الله سبحانه وتعالی ته ډېر گران وي. احمد له مصعب بن سعد څخه روایت کوي، زما پلار وویل: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې پوښتنه وکړه چې کوم خلک ډېر امتحان کېږي، نوموړي په ځواب کې راته وویل:

**«الْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الصَّالِحُونَ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ مِنْ النَّاسِ يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ فَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ صَلَابَةٌ زِيدَ فِي بَلَائِهِ وَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ رِقَّةٌ خُفِّفَ عَنْهُ وَمَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ حَتَّى يَمْشِيَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ لَيْسَ عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ»**

**ژباړه:** *لومړی پیغمبران بیا صالحین، دویم به بیا د خلکو په منځ کې هغه کسان سخت امتحانېږي چې پر خپل دین ټینگه عقیده او کلک ایمان ولري. که هغوی پر خپله ژمنه او قول ټینگ ولاړ وي، نو هغوی به سخت امتحانېږي او که په خپله وعده کې کمزوري شي، نو د هغه امتحان به هم کمزوری وي. هغه کسان چې تر آخره په دې دنیا کې امتحان شي او له سختیو سره مخ وي، نو په هغه به د اخرت په ورځ هېڅ گناه هم نه وي پاتې شوې.*

دا یو حقیقت دي چې نوید به د خلافت د بیا تاسیس لپاره په پاکستان کې له خپلو نه ستړي کېدوونکو هلو ځلو او قربانیو څخه انرژي اخیستله. اوس نو دا غږ نور هم قوي شوی او قوي کېږي.

په پای کې زه الله سبحانه وتعالی ته دعا کوم چې نوید د دغو ظالمانو له منګولو څخه په پوره روغتیا او سلامتیا راخوشی کړي او له الله سبحانه وتعالی څخه ده او کورنۍ ته یې د ښه ژوند غوښتونکی یم.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: عمر عبدالعزیز**

**۱۴۴۲ ه.ق، د ربیع الثاني ۲۷مه**

**۲۰۲۰م، د ډسمبر ۱۲مه**